سلطان جان کلیوال

۲۰۲۳/۰۸/۲۲

# ناکام

ستا زړه ته د لارې په میندلو کی ناکام شومه
زه د خپلي میني په روزلو کی ناکام شومه

مات می زنځیرونه د پولادو کړه یو بل پسی
څه وشو؟ د واک په چلولو کی ناکام شومه

زه د زماني د کاروانونو سر لښکر ومه
ګوډ شومه منزل ته، رسیدلو کی ناکام شومه

ښکارې موراو پلار، نیا او نیکه راته ښیرا کړې
لوبه می کټلي وه، ساتلو کی ناکام شومه

ولس رانه پردی شو، کوراوکلی راته بد ګوری
بیا د خپلو ورونو خپلولو کی ناکام شومه

نوم د عدالت باندی می ډیرې ویني توی کړلي
جوړشومه قاضي خوانصاف کړلو کی ناکام شومه

دیرې دعاګاني کلمي می په ځان چف کړلي
لا شومه کمزوری، په لارتللو کی ناکام شومه

نورو می له ډیرې ساده ګی نه ګټه پورته کړه
خپلو کلیوالو ته کار کړلو کی ناکام شومه

جولای/۲۸/۲۰۲۳
ایجکس – تورنتو – کاناډا



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ